


# شاغلي زيب منتظر مسيد د پښتو ژبې او ادب خوږ ژبي او تکړه شاعراو پياوړي ليکوال

## مرکه وال :

## انجنيرعبدالقادرمسعود

علامه محمود طرزي وايي:(يواولس په ژبه او ژبه په ادبياتو ژوندی پاتې کيږي). د پښتو ادب او فرهنګ په ځلانده او وياړلي ډګر کې پښتو ژبه له هغې وخت نه، چې د خپرونو او کتابونو ژبه شوه، داادب په تاريخ کې يې د يو نوي ادبي او عملي ژوند بنسټ کيښود. زموږ اديبانو، شاعرانو او ليکوالو دخپلوادبي هڅو، فعاليتونو، هلوځلو او دبې ساري شاعرانه نوښتونو، ترکيبونو او

تصویرونو په نتیجه کې نن ورځ د پښتو ژبه او ادب يې په یوې نوې او ځواکمنې لارې د ادبي او ملي ګټو په ګانه سمبال کړې دی. دوی دخپلې ملي ژبې د پرمختیا، پراختیا او دودتیا لپاره له هیڅ ډول هاندو هڅې څخه ځانونه نه دي سپمولي، او هر چا د خپل توان سره سم په دې لاره کې د مننې او قدر وړ خدمتونه تر سره کړي دي. یو له دغو پیاوړو او تکړه لیکوالواوشاعرانو له ډلې څخه ښاغلی زیب منتظر مسیددی، چې د خپلو ارزښتناکو آثارو په وسیله يې د پښتو ادب بڼ همیشه تازه، ښیرازه او غوړیدلې ساتلې دی.

ښاغلی زیب منتظر مسید د جهانزیب شمنخیل مسید زوی او د فرقه مشر محمد رمضان خان شمنخیل لمسی دی.دی پر (۱۹۶۳) زیږدیزکال داکتوبردمیاشتی پر لسمه نیټه په وزیرستان کې زیږیدلی دی.نوموړې په قوم لمرګل خیل مسیددی.لومړنی زده کړې يې په خوشال خان لیسه کې تر سره کړې دي، بیا د لوړو زده کړو لپاره د پخواني شوروي اتحاد دازبکستان سوسیالیستي جمهوریت تاشکند ښار ته ولاړو،او پر (۱۹۸۹) زیږدیز کال يې د تاشکند د البیروني په نوم د پولیتخنیک د انستیتوت نه د مهندسي په څانګه کې د ماستری دیپلوم تر لاسه کړ.

د یادونې وړ ده چې منتظرمسید صاحب د زده کړو پر وخت له روسي ژبې نه دوه کتابونه چې یو يې (جګړه) او بل يې (غښتلي وګړي) نومیده هم پښتو ته ژباړلي دي. بیا يې له (۱۹۹۰ز) تر (۱۹۹۲ز) کال پورې د افغانستان لپاره له تاشکند راډیو له پښتو خپرونې سره د ژباړونکي او ویاند په توګه مرسته کوله. پر (۱۹۹۳ز) کال اوکراین ته او له هغه ځایه بیا پر (۱۹۹۸ز) کال پاکستان ته ولاړو. پر (۲۰۰۳ز) کال بیرته افغانستان ته راستون شو نن سبا هلته اوسیږي او په خپل کار او دنده بوخت دی. ده د ښونځي له وخته په شعر ویلو پیل کړیدی او پر (۲۰۰۵ز) کال يې د خپلو شعرونو لومړۍ ټولګه د (اوکا) په نوم چاپ کړه. د منتظر مسید صاحب ډیر زیات شعرونه او بیلابیل مضامین پربیلابیلو موضوعګانود هیواد په ځینو ورځپاڼو، اونیزو او الکترونیکي رسنیو کې خپاره شوي دي. ده خپله دویمه شعري ټولګه چې د (ویښې

شپې) په نوم یادیږي د چاپ لپاره تیاره کړې ده ډیر ژر په چاپ شي. منتظرمسید صاحب د خپلو شعرونو تر څنګ د جنوبي وزیرستان د مسیدو قوم د تاریخي مبارزو او هڅو په باب هم ځینې څیړنې او یو شمیر معلومات راغونډ کړیدي چې غواړي دا څیړنې او معلومات د یو کتاب په توګه هم چاپ کړي. دی د خپلو ټولو فعالیتونو تر څنګ د شوق او ذوق له مخې انځورګري هم کوي او همدارز په مجسمه جوړولو کې هم ښه استعداد لري. لنډه دا چې ښاغلی منتظر مسید زموږ د هیواد څو اړخیزه شخصیت دی، له تاریخ، سیاست او ادبیاتو سره ځانګړې مینه لري.

- ښاغلی زیب منتظر مسید زموږ د هیواد هغه مخکښ او تکړه شاعر او لیکوال دی، چې د ده په لیکنو او شعرونو کې د پښتو ژبې او پښتونولي سره سوچه، پاکه اوسپیڅلې مینه، د هیواد او هیوادوالو او ټولنیزو هیلو او دردونو ملي احساسات او جذبات له ورایه څرګندیږي. دبیلګې په توګه دده دا بیتونه لولو:

جهان رانه ورک شوی دی، خپل ځان رانه ورک شوی
امید، هیله مومړه دي، هم ارمان رانه ورک شوی
څه لړې، څه توپان ګرم، څه هم موږ په سمه نه یو
منزل چې غلط کړی مو، کاروان رانه ورک شوی
چې خرمنځ دسیالانوکې، لړ بل خوډیرخپل ګرم یو
احساس مودی مړشوی هم وجدان رانه ورک شوی
دبل په تمه ناست یو، چې رنګ کوربه راله جوړکړي
غیرت اوننګ مو څه شو، هوډ، ایمان رانه ورک شوی
***

او یا وایي :
لاړم پردلدل (بوخته) دړوندغیرت ډوب ترزنګون شومه
ورک مې خپل پیژندکړ، لوی افغان وم تش پښتون شومه
ماویل ککړی به شي ماته، شکته نه به شي
ماته نشوه، شکته هم شوه، پاتې له پاخون شومه
لوبې دپیشو رابانډي خپلو هم پردو وکړې
سپک شومه، بې پته شوم، هم ګرم دهرقانون شومه
سپي دلیوني په شان نښتی مې لکی پوري

جوړه تماشه مې ددښمن دنندارتون شومه
شکته ترهرچاخو راته ځان ترهر چالوړشکاري
ځکه شاته پاتې له هرنوي اوښتون شومه
چيرته چې جګړه وي مامې بدې ورته نغښتې دي
ځکه جګړه مارو دنړۍ ته جوړمضمون شومه
ماويل چې تل به (منتظر) نه يم ،نيکمرغ به شم
اوږد مې انتظارشو،نورنوستړى له ژوندون شومه

او يا وايي :

دنيکمرغى په لټه وتى ، سمه، غرلټوم
دتوروشپونه سترى شوى يمه لمرلټوم
شيرخان،ميرويس، احمد،غفار نه مومم
ناهيلى ګرځم،خپل ټاټوبى لراوبرلټوم
لکه دډال چې ددښمن ګوزار ته ودريږي
داسې پولاد په شانې کلک پښتون ټټرلټوم
نه خومورچل له لاسه ورکړي،نه دښمن پرې برشي
پاتې ژوندو سرو کې داسې يو نر سرلټوم
***

پوهاند ډاکتر صاحب مجاوراحمدزيار، چې زموږ دهيواد نوميالى فرهنګيال څوارخيز منلى شخصيت ژبپوهاند او ادبپوهاند، ليکوال، رسنوال او تکړه وينا وال دى په خپله يوه ليکنه کې دښاغلي زيب منتظر مسيد د ادبي شخصيت په اړه داسې وايي:
(ګران او منلى انجنير صاحب،
ډير ه منته چې دمنتظر مسيد غوندې د يوه بل فرهنګيال مسيد له اند و ژونده دې خبر کړم.له داسې يوه انسانه چې په ټوله رښتينولى او روغنيتى يې د خپلي مورنى ژبې دسرخني لپاره منډې ترنډې وهلي. هم يې د ليکوالى، ژباړې او رسنوالى او هم د شعر و شاعرى او وياندى له لارې له غبرګو تربرو (پارسي او اردو).ژبو سره د سيالى او خپلو وروسته پاتې پرګنو د راويښونې لپاره شايسته ډير څه کړي دي.
د شعر ژبه يې له روانى او ساده ګى سره سره د پښتني ولولو شه تراستازي او انځورګري کوي او يو شکلى

پیغام پکې رانغاړي.خو زه یې بیا په ځانګړې توګه د ټولنیز ارمان یوه رنه هینداره بولم او له همدې پلوه ورته د لا زیاتو بریوا و بریاووغوښتونکی یم.
په ټوله پښتنې- فرهنګي مینه!
پوهاندمجاوراحمد زیار)

ـ د ښاغلي منتظر مسید په شعرونو کې دپاکې او سپیڅلې مینې او محبت خبرې او د کلام سپیڅلتیا د ده دزړه د درد او احساس ژبه ده، چې هر لوستونکې او اوریدونکې په لوستلو او اوریدلو پکې د خپل زړه دردونه، هیلې او آرمانونه موندلې شي.دی په خپلو شعرونو کې دخپلو خلکو دردونه او د پیښو، حوادثو عیني او ریښتیني تصویرونه اودټولنیزژوند بیلابیل اړخونه او نیمګړتیاوې په ډیره میړانه او زړورتیا د خپلو هیوادوالو سره شریکوي او ترینه پرده لیرې کوي.د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو:

ورځې مو تیرې کړې په خوب، ویښې موشپې پاتې شوې
ځکه اغیارلاړ تر منزل، زموږ قافلې پاتې شوې
تندې اخیستې ور روان یودسراب په لورې
خیرمه ترخنک مودچینې اوبه رنې پاتې شوې
دبل پرسربانډې ږدو پښه، خوځانته لاره باسو
غم دعقبا دی رانه هیر،رانه سجدې پاتې شوې
زاهدپه یوه پیاله تسل نه کاویالې یې غواړې
هسې په حرص کې دساقي ترې پیمانې پاتې شوې
ورنه لټون کې دجنت دغونډومنډوحورو
ددې دنیادا ښکلې پیغلې سپینې سرې پاتې شوې
هغه چې تلې، ښه یابد وو بیرته نه راګرځې
دچانه بدې خاطرې، دچانه ښې پاتې شوې
بس (منتظره) دجنت غم خوره جومات ته مخ کړه
لاړه ځوانې نورې دعشق مینې کیسې پاتې شوې
***

او یا وایې:

څوک په اوبوکې پل د ورک جنان دپښې لټوي
څوک په نیستۍ کې د هستۍ دخوند وږمې لټوي

چا ده ځولی کلکه نیولي د نفرت اوکرکي
پکي دمیني،محبت شیبې خوږي لټوي
ځوک جل وهلی،دسراب لورته په ځغاسته روان
غواړي پرې ماته تنده خپله کړي،ویالې لټوي
بلبل دګل ښایست دځان لپاره غم جوړکړی
ناست تمام عمریې صفت لره نغمې لټوي
پتنګ دشمعې درڼو اوښکوطواف لره ځي
خپلووزرو ته داور بلې لمبې لټوي
***
او یا وایي :

زه خو تاته درنژدې شوم،لیرې،ګوښی له دونیاشوم
دریغه تاهم درخپل نکړم،پاتې ځانته تک تنهاشوم
یوځپانده ،خوځندموج وم،ډک له مینې او احساسه
په ساحل دبې حسی مې ټکر وخوړ ورک ، پنا شوم
ته نغمه شولې بې سره دمطرب ګوتو کې ښکیله
زه غزل شوم ډک له غمه،اه ،پریادشومه،نوا شوم
تاښادې خپله جامه کړه،دحسرت لمن ورتوله
زه دغم سره ملګری،میشت په کلي د ژړا شوم
تا دګل طراوت خپل کړ،دبلبل دزړه صیاد شوې
ماغزا له غاړه ورکړه،تپ،پرهارشومه ،غوغاشوم
خوشیبې،ځوګړی ژوند دی،ستاله سر ځینې دې ځاروي
(منتظر) پرې پښیمان نه یم ، خیرکه لاړمه،خطاشوم
***
ښاغلی عبدالهادي هادي صاحب چې زموږ دپښوادب په ډګر کې یو تکړه او نامتو لیکوال اوشاعر دی په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي زیب منتظر مسید صاحب دشعر او شاعری په اړه داسې کښلي دي:
) .... ښاغلي منتظر زیب مسید مې په فیس بک کې پیژندلی دی، له څه مودې یې نیژدې هره ورځ ، دوه پس یو شعر لولم، لوستی او له روان نریوال شعري بهیره خبر او آګاه شاعر دی.شعرونه یې روان، ساده او ښکلي دي.د مسید شعرونه زموږ داوږدې روانې تراژیدی ژوندي او ښکلي انځورونه دي، د ده په شعرونو کې د هغه اور

تاوونه له ورایه ښکاري چې د ده پر زیږنځای وزیرستان کې بل دی:
جهان رانه ورک شوی دی ،خپل ځان رانه ورک شوی
امید،هیله مومړه دي،هم ارمان رانه ورک شوی
څه لړې،څه توپان ګرم،څه هم موږپه سمه نه یو
منزل چې غلط کړی مو،کاروان رانه ورک شوی
مسید ته د پښتنو د بې څاروانه کاروان د ورکې درد مالوم دی او د همدې له پاره ، خپلې ویاړلې ماضي ته پناه وړي او د تیرو زمانو په طلایي پاڼو کې شیرخان، غفار خان او میرویس خان لټوي:
دنیکمرغی په لټه وتی ، سمه، غرلټوم
دتوروشپونه ستړی شوی یمه لمرلټوم
شیرخان،میرویس،احمد،غفار نه مومم
ناهیلی ګرځم،خپل تاتوبی لراوبرلټوم
ښاغلی مسید ته د پښتني ټولني نبض ورمالوم دی او په دې پوهیږي چې موږ ټول عمر د دې پر ځای چې د مستقبل له پاره فکر وکړو نو د خپلو نیکونو او پلرونو پر تورو ویاړیدلي یو، او همدا هغه څه دي چې موږ یې د زماني له کاروانه وروسته پرې ایښی یو، هغه په ډیرهنرمندانه انداز د پښتني معاشرې پر دغه منفي سلوک انتقاد کوي او په ښکاره وایي چې موږ همدې تشو ویاړنو له کاره ویستي یو:
لاړم پر دلدل (بوختې) دړوندغیرت ډوب ترزنګون شومه
ورک مې خپل پیژندکړ،لوی افغان وم تش پښتون شومه
ماویل ککری به شي ماته،ښکته نه به شي
ماته نشوه، ښکته هم شوه ،پاتې له پاخون شومه
ښکته ترهرچاخو راته ځان ترهر چالوړښکاري
ځکه شاته پاتې له هرنوي اوښتون شومه
چیرته چې جګړه وي مامې بدې ورته نغښتې دي
ځکه جګړه مارو دنړی ته جوړمضمون شومه
ما چې تر کومه د ښاغلي زیب منتظر صیب شاعري لوستي نو هغه راته یو متعهد شاعر ښکاري، هغه د فکر د ارایې له پاره او د خپل پیغام د لیږدولو له پاره له شعره د یوې وسیلې په توګه کار اخلي او غواړي په دې ډول د پښتني معاشرې نیمګړتیاوې رابرسیره او د حل لارې یې په

ګوتـه کړي، ان تـر دي چي کـلـه کـلـه خو ډيـر د هنـر پـروا هم
نـه ساتـي خو د خپل پـيغام او فـکـر لـيږد تـه تـر پـايـه
متـعهـد پـاتـي کـيږي.د شاغلي مسيد پـر شاعرى ډيـري خبـري
کـيداى شي چي هغه زه بـل وخت تـه پـريږدم خو پـر دي خبـره
ټـينګار کـوم چي کـه څوک غواړي د ژونـد لـه پـاره شعر
ولـولـي او کـه څوک پـه شعر کي فـکـر او منځپـانګي تـه پـر
نـورو تـوکـو تـرجيح ورکـوي نـو د منتظر مسيـد شاعرى نـه دي
پـه څنګ نـه تـيريږي او خامخا دي د هغه د شکلـي او
انسانـي شاعرى پـه ګلبـڼونـو ورګډ شي.بـيځايـه بـه نـه وي چي
لـه خپل ګران دوست انجنير عبدالقـادر مسعود نـه هم مننـه
وکړو چي زموږ د ا حقدار او ښه شاعر يـي راسپـړلـى دى او
غواړي پـه دي ډول يـي نـور هم افغانـي ټـولـنـي تـه
ورپـيژنـي...))
- منتظر مسيـد صاحب پـه خپلـو شعرونـوکي خپل رښتـينـي
احساسات او افـکار دخواړانـو،غريـبـانـو، مسکينانـو،
مظلـومانـو او يـتـيمانـو پـه اړه او د دوى رنځونـه او
غمونـه، لـوږه اوتـنـده او د ټـولـنـيزژونـد نـاخوالـي،
کړاوونـه او نـاهيلـي داسي انـعکاسوي، چي د هر لـوستـونـکـي
انسانـي عواطف او احساسات راوپـاروي. د بـيلـګي پـه تـوګـه
دا بـيتـونـه ګـورو:

راځى چي سوچ پـري وکړو
دا ملامتـه څوک دى ؟!
داچي مو کورويـجاړدى
ور دروازه نـلـري
پـه نغري کي مو اور نـه بـلـيږي
خړي لـوخړي، مړه لـوګـي تـري خيژي
دمايـوسى سلـګى ،کـريـزونـه کـوي
پـه غم لـړلـي اسويـلـي تـري خيژي
سکروتـي مړي دي تـش ايـرې پـاتـي دي
تـرخي تـرخي څوخاطري پـاتـي دي
راځي لـږسوچ پـري وکړو
دا ملامتـه څوک دى !؟
***

او يـا وايـي :

څه روان دي ستا دونيا کې لويه خدايه
څوک خاوند د څوکورو اوڅوک بې ځايه
څوک بې رزقه ،جامې نه لري په غاړه
څوک لري بيا بې حسابه دغه دواړه
څوک له فقره ويرۀ، فرياد کړي په ځان تنګ وي
چا په کور کې موټرونه رنګ په رنګ وي
څوک خوري وينې د مظلوموپرې چاغيږي
څوک له لوږې نه په سرو ستړګو ژړيږي
دچالاس د بل په وينو سور ککړوي
څوک بسمل غوندې په خاورو کې خرپړوي
د چا ځمکه بستره ، تيږه بالښت وي
دچا نرم اونازک ، ډېر يې ارزښت وي
څوک تنور په شان په سرو غرمو کې کارکړي
څوک بيا ناست ارام ،امرونه اوګفتار کړي
څوک د بل لپاره ځان فدا، قربان کړي
څوک دبل په زيار وځان ته جوړجهان کړي
څوک کړي فکر څنګه نن شپه به سبا کړي
څوک له ډېرې خوشالې شين وي ،خندا کړي
***

او يا وايي :

شکاروکه ظاهرژوندي،باطن کې هر زړه مړی دی
موړله ژوندستومانه،ژوند له موړه ځينې سترې دی
خدايږولګيدلی پرپښتون دليوني سپي رنځ
وينې دخپل وروروڅښي ده ته شکاري لوی پياوړی دی
نورخلک خپل ژوندکړي موړاخته دځان په ويرکې يو
سورککړ په وينو د وجود مو هر يو غړی دی
لت پت موچمن دی پانې پانې سره ګلان پراته
خدايه رالويدلی پرموږڅه تندرخوشمړی دی
کانې بوټې سوزي دباړودو ترې لوګې خيژي
دغه يې سوغات دی چې دښمن موږته راوړی دی
سترګې مو ړندې دي پرې پرده ده دنفرت خوره
عقل اوشعورردجنګ،جګړې ديو رانه وړی دی
کورد غليم وران شه داېې څه کانې راوکړلې

اوردځان ځانۍ يې پرلمن راپوري کړی د ی
بس کړه جنګ پښتونه لار دسولې علم ونيسه
سوال درته زاري کړم دلوی خدای روی مې دروړی دی
زه خو(منتظر) يم دپښتون ديوه نيکمرغه ژوند
ګران راته ترځانه دپښتون هريووګړی دی
***
- ښاغلی منتظرمسيد په خپلو شعرونه کې دظلم، استبداد، نابرابريو او اختناق پر خلاف خپل دريځ په ډاګه ځرګندوي. د بيلګې په توګه دا بيتونه ګورو:

دمستبد له ظلمه شور مه کوه
ويره يې ډارله ځواک اوزور مه کوه
پاڅه په سوک يې ورله مات کړه [ورسک]
ذغم، حوصله، صبر ورته نورمه کوه
فيصله منځ کې چې دحق، باطل کړې
توپيردلوړ، ټيټ، سپين اوتور مه کوه
چادرته ويل؟! ماتې دښمن لپاره
صرفه پرپلاردې هم پرورور مه کوه
که خوښ ژوندون دې وي بې [مرنودرنو]
دپلارومور زنيازبينه لور مه کوه
هرکارچې کړې په خپل تدبيريې کوه
استفاده سؤ له مجبور مه کوه
سکون دروح،جنت فردوس دې په کار؟!
دلازاري دپلارومور مه کوه
***
او يا وايي :

لږمې پريږدی
چې په چوپه اوخاموشه
غلې دپه يوه ګوښه کې
تک تنهايوازې ځانته
لږساعت يوه ګړی کينم
خپل خوره وره، ورک شوي
تراهيدلي، ويريدلي
بوږنيدلي ريږديدلي

عقل،پکرا وشعورمې
سوچ اوخيال سره راټول کړم
ځان،جهان، حالت راغلی
دشه، بدپه تله تول کړم
لړمې پريږدئ! چې سوچ وکړم
دتورمخې بدمرغۍنه
تکې تورې تاريکی نه
دغمونودکوهي نه
ددشمنې ناپوهی نه
دوتولار که پيدا کړم
داتياره توره رڼاکړم
لړمې پريږدئ!
***

او يا وايي :

راشئ ای ملګرو،نور دغم خبرې نه کوو
نه تويووا وښکې ، دماتم خبرې نه کوو
غم په خوشالې مينځو،ناخوالوته سرور راوړو
تپ،پرهاردې ورک شي ، دملهم خبرې نه کوو
ستايو به شکلادبڼ،وړمونه به يې خوند اخلو
ترمو،ترموا وښکودشبنم خبرې نه کوو
غوړنيسو مطرب ته،دنغمويې سوزاوساز اوړو
موړيې سرا وتال،دزيراوبم خبرې نه کوو
لمريادوو،ورځ ياده ، رڼاوروښنايې ګورو
شپه هيره،تياره هم دتورتم خبرې نه کوو
ډاردرقيب نه دی ،له مينې لاس په سرچې شوو
تاتندی کړتريو،ځکه صنم خبرې نه کوو
نورنو(منتظره)خپل چمن کې خزان نه زغمو
تل غواړوپسرلی دبل موسم خبرې نه کوو
***

- شاغلی منتظر مسيد په خپلوشعرونوکې مينه اومحبت، شکلا،رازونياز،حسن و جمال سوزوګداز اودطبيعت دمناظرو شکلا په ډيرو رنګينوتصويرنو، خيالونوا و سمبولونو کې داسې ترسيموي . دبيلګې په توګه دا بيتونه ګورو:

یارمې خبرله حاله څه دی په ماڅه تیریږي
څه یی پرواده چې په غم کې یم که ښه تیریږي
ماویل زماواوښکې به توپان شي یار به ولړزوي
هسې ګریوان ته څاکې څاکې ترلیمه تیریږي
لکه ماشوم ترلاس راکاږم زړه دژوندسفرته
خوخدایږو یاره چې ته نه یی وخت مې نه تیریږي
په سره انګاریی دسروشونډوراله وریت دی زړګی
ځکه خوګریځ کوم ،پریادمې تل ترخوله تیریږي
چې شمه مړ،مړی مې ښخ کړئ دګودرپه لارکې
چې مستې پیغلې مې ترڅنګ په تله راتله تیریږي
دایی پسادټول تربنولاندې کتلوکې وو
چې یی (مسید) کړ(منتظر) اوس ترینه نه تیریږي
***

او یا وایي :

مامې حال ورته بیان کړ، دې په ټوکوواړوله
داغ دزړه ورعیان کړ، دې په ټوکوواړوله
دبیلتون له درداوغمه ،ویر،پریادمې ورته وکړ
ورته څیرې مې ګریوان کړ، دې په ټوکوواړوله
دمینو پیروي کې ،دمجنون په لاره لاړم
ترینه ځارمې ځان، جهان کړ، دې په ټوکو واړوله
تورته سپین ،بدته مې ښه ویل،بس چې یارمې وي خوشاله
ځمکه پاسه کوزمې اسمان کړ،دې په ټوکوواړوله
دملنګ جامه کې ورغلم،ګوندې زړه به یې لږخوږشي
(منتظر) مې مل دځان کړ،دې په ټوکوواړوله
***

او یا وایي :

زه ګل دصحرا وم
په بیدیاکې لویدمه
نه شکلا دچادبڼ وم
نه امیل دچادغاړې
بې خبره دګلدان وم
نه محتاجه د باران وم
نه اوبه چاراکولې
نه ویالې مې پیژندلې

وچې شونډې لندوي مې
دګهيځ پرخې پرخاځکو
دسهارتنکي نسيم به
زه له خوب راويښولم
دسپيرې بيدياببلبلو
به په شونډوشکلولم
ځوګړى ځوشيبې ژوندوو
په خوښى مې تيرولو
***

او يا وايي :

چته شپه بيداره ناست يم
ستاپه يادکې
داسمان له رڼوستورو
دسپوږمى له ټيکلي نه
ستاميينې، تکې سپينې
نرى غاړې ته دلبره
بس پييل ديوه هارغوارم

تورو جګوغرونو شاته
دشفق په سره لمن کې
ستامنګلوتکوسپينو
بلورينواوپستوته
دنکريزوسرخې غوارم
زيب، زينت اوسينګارغوارم
تورې، دپې دې چوپتياکې
ناهيلى ډکې فضاکې
دزمان له جبره ستړې
خپل عمجن او [آوکا] زړه ته
لرسکون اوکرارغوارم
***

دښاغلي منتظر مسيد په شعرونو کې جګړه چې دهرډول بدمرغيو مور ګڼي او دهيواداو ولس نيکمرغي يوازې په سوله کې ويني، خپل ولس داسې دسولې لورې ته رابولي : دبيلګې په توګه دا بيتونه ګورو:

پښتونه ! جنګ پرېږده،خوږه لېږزده کړه
حل دمشکل په مرکه لېږزده کړه
په هر خبره ټوپک مه را اخله
کابوپرڅان اوپرغوسه لېږزده کړه
ډېردي تاوده وخوړل ځان دي وسوو
نوره تاوده پرېږده، ساړه لېږزده کړه
څوبه پټي پرسرخپل ورور دي وژني
زغم، تحامل اوحوصله لېږزده کړه
***

پدی وطن کی چی تويبری دادچاوينه ده
نه داغيار،نه ددشمن ده ، زما اوستاوينه ده
داچي لاسونه دي پرې سره دی ترتخرګونوپوري
يادي د ورور،ياهم دپلار،ياخوباباوينه ده
رنګ خويی سوردی خوقيمت يی چی دوينی ندی
دادپښتون وينه ارزانه ده ، وږياوينه ده
تاهم کړه تويه،ماهم تويه،هم هغه تويه کړه
پرون هم وينه وه، نن وينه،هم سباوينه ده
تندرکه ټکه رالويدلی ده زموږ په غولي
ځمکه په وينو،اوبه ويني،هم فضاوينه ده
راشی دخپلي ويني قدرلږ په خپله وکړو
بيابه يې بل په قيمت پوه شي ،خامخاوينه ده
خپلومجبورکړ (منتظر) چی غلی ناست دی ګوري
ګني سوراوريی بل تترکی ، هم توده وينه ده
***

او يا وايي :
لاړم په دلدل دړوندغيرت ډوب ترزنګون شومه
ورک مي خپل پيژندکړ،لوی افغان وم تش پښتون شومه
ماويل ککری به شي ماته،ښکته نه به شي
ماته نشوه، ښکته هم شوه ،پاتې له پاڅون شومه
لوبي دپيشورابادي خپلوهم پردووکړي
سپک شومه،بې پته شوم، هم ګرم دهرقانون شومه
سپي دليوني په شان نښتی مې لکی پوري
جوړه تماشه مي ددښمن دننداړتون شومه
ښکته ترهرچاخوراته ځان ترهرچالوړښکاري

ځکه شاته پاتې له هرنوي اوښتون شومه
چيرته چې جګړه وي مامې بډې ورته نغښتي و
ځکه جګړه ماروونړى ته جوړمضمون شومه
ماويـيل چې تل به (منتظر) نه يم ،نيکمرغ به شم
اوړد مې انتظارشو،نورنوستړى له ژوندون شومه
***

او يا وايي :

توره تياره کې ميشت يم
دپه، تربته تياره
هرخواخوري دي دتورتم لښکري
هررنګ يې وخوړ بس يو تورپاتې دى
لکه توردېو ډيوې ،څراغونه وژني
نه تري رڼانه ترينه نورپاتي د ى
هم موټول غولى هم کوڅه تياره ده
څه عجيبه غوندي سپيره تياره ده
زموږ پرکلي يې ولکه کړيده
زموږ دشکيلاک يې اراده کړيده
زه مې خپل زړه ورشيېم
چې پرهارژلى دى ټول
دوينوداري تري ځي
ټپي ويشتلى دى ټول
دريغه څوک نه يې وينې
سترګې ړندې دټولو
توري تيارې پرې غلبه کړيده
غږمې هم نه اوري څوک
نه مې ناري نه سوري
نه مې فريادونه سلګى
څه عجيبه تياره
غوږونه هم کڼوي
هرڅوک کاڼه ،ړانده دي
هرڅه تياره دي
***

ښاغلي شهسوار سنګروال د پښتوادب تکړه شاعر، نامتو ليکوال او څيړونکي د ښاغلي زيب منتظر مسيد د شعر او شاعرى په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې وايي:

د) منتظر صاحب شاعری ته تم کیږم ځو شیبي :
محترم مسعود صاحب ماته د ځوان او تاند شاعر ښاغلي
منتظر زیب مسید یو شمیر شعرونه په دې تمه راولیږل
چې په دې پلمه پرې یو څو کرښې ولیکم :
ما لا تر اوسه دغه ځوان شاعر نه دی لیدلی، خو د
انجینر صاحب د لیکنې له مخې، دی نه یوازې شاعر دی،
یو ژباړن او لیکوال هم دی... ده د وزیرو او د
وزیرستان د مسیدو تاریخ هم لیکلی دی، او لکه چې
ښکاري دی پخپله هم مسید دی.
زه چې څومره مسید تېر پیژنم نو، مسید بابا د محمود
زوی (موسی، محمود، او مبارک درې سره ورونه ول)، د
خدري لمسی، د وزیر کروسی کڼل کیږي.
وزیر بیا د سلیمان زوی، د ککې لمسی او د کرلاڼي کړوسی
دی چې ځینو دی د کیکاس یو نامتو شهزاده بللی دی.
سراولف کیرو په دې آند دی، چې کرلاڼ د ترکستان له
میمنې څخه راغلی دی (پټانز ۵۸۷ مخ)، چې اوس د ده
اولاده نه یوازې په وزیرستان کې استوګن دي بلکې په
کابل، پروان، کندز، مزار شریف، پکتیا او د پښتونخوا
په ټوله سیمه، ان په هندوستان کې میشت او ودان دي.
ما، چې د مسید صاحب کوم شعرونه تر لاسه کړل یو شمیر
شعرونه یې قافیه وال او یو شمیر نور یې د آزاد شعر
په بڼه کښلي دي.
شعر که په هره بڼه او منځپانګه وي، وي به، خو د شعر
ویلو ستره هستي هماغه شاعرانه تخیل دی. شعر لکه د
پسرلي تنکی نری وږمه چې د بڼ د رنګینو غوټیو ژبګی
تخنوي، سا ورکوي، او د ښکلا پر مخ ورته د مینې او
عاطفې ډک لاس راکاږي. د ګران شاعر یو شمیر شعرونه په
همدې تول برابر دي. خو یو شمیر نور یې ماته د تامل
وړ دي. د شعرونو څو بیلګې داسې دي:
تندې اخیستي ور روان یو د سراب په لوري

څیرمه تر څنګ مو د چینې اوبه رڼې پاتې شوې
یا داچې:
شیرخان، میرویس، احمد، غفار نه مومم

ناهیلی ګرځم، خپل تاتوبی لروبر لټوم
حقیقت او رښتیا ویل که هر څو غښتلي وي هنر نه دی.
هنر شعر ته ښکلا او رڼا بخښي او په زړه پورې استعارې،
هستي او مستي. شعر لکه د پیکاسو انځورونه په پټه
خوله غږېږي او خبرې کوي:
راشئ ماښام...
له خپله ځانه سره...
توري تیارې راولئ
په آسمانو کې بره
بیا د رڼو ستورو او سپینې سپوږمۍ
د جل او بل اتڼ پیغام راوړي
نوی الهام راوړي
- - - - - -
زه منتظر بس د هغه ماښام یم
چې له خپل ځانه سره...
زما دې تور او دې تیاره جهان ته
د بیلتانه په اور کې
سوي کورته
زما سپیره جهان ته
لږ شان رڼا راولي
بس له خپل ځانه سره
محبوبې تا راولي
لکه څنګه چې قافیه وال شعر خپلې سنتي ځانګړتیاوې
لري، آزاد شعر او د شعر نورې بڼې هم همداسې دړواخله.
لکه چې څرګنده ده د قافیې له نهو (۹) تورو څخه
"روي" د قافیې اصلي توری دی او له "روي" نه پرته
قافیه نه تړل کیږي. د قافیې په کلمو کې د متحدو
غږونو لومړی متحد غږ "روي" ګڼل کیږي، په دې شرط چې
قافیه موسسه، مردفه، او مقیده نه وي، لکه:
نه یې ملک، نه یې لښکري نه ګنجونه
تر خانانو دماغي دې ښکلي نجونه
که چیرې قافیه یو غږ ولري او یا یو توری، کنسوننت وي
که واول، "روي" دی.

له روي سربيره ردف، قيد، تاسيس، دخيل، وصل، خروج، مزيد، نایر... هر یو خپل ځای لري.
همدارازپه آزاد شعر کې هم خپلې ځانګړني لیدلی کیږي. یاني په دا ډول شعر کې څپیز او خجیز انډول ډېر مهم دی. شاعر چې کله د شعر لومړي ټکي پیلوي، باید د خج ټکي وپیژني چې شعر ترپایه همغه انډول وساتي.
زه د تکره شاعر منتظر صیب د شعر څو بیلګې د ساري په توګه راوړم.

زه ګل، ګل د صحرا وم
په بیدیا کې لویدمه
نه شکلا د چا د بڼ وم
نه امیل د چا غاړې
+ + +
یار مې خبر له حاله څه دی په ما څه تیریږي
څه یې پروا ده؟ چې په غم کې یم که ښه تیریږي
ما ویل زما اوښکې به توپان شي، یار به ولړزوي
هسې ګریوان ته څاکې څاکې تر لیمه تیریږي
لکه ماشوم تر لاس راکاږم زړه د ژوند سفر ته
خو خدایږو یاره چې ته نه یې وخت مې نه تیریږي
دا یې پساد تول تر بنو لاندې کتلو کې وه
چې یې مسید کړ منتظر اوس تر ینه نه تیریږي

پای
د مسید صاحب د لا ښو شعرونو په هیله
په درنښت: شهسوار سنګروال
( ۱۳/۶/۲۰۱۲ ) لندن
ښاغلی زیب منتظر مسید یو درونډ، پاک، سپیڅلې، با احساسه او مینه ناک شخصیت دی.دی دخپلو یارانو او دوستانو سره په ډیره پسته او خوږه ژبه غږیږي او د دوی په منځ کې خپل ځای او مقام لري.

دمنتظر مسید صاحب د پوره پیژندګلوي لپاره ما د ده سره یو ادبي مرکه نیولې ده ، هیله من یم چې ستاسو ادبي تنده پرې ماته شي .

منتظرمسيد صاحب زما سلامونه او نيکي هيلي ومنې .
اجازه راکړى، چې خپلې پوښتنې پيل کړم.

ګران مسعود صاحب زه هم خپل سلامونه تاسو او ټولو مينه والو ته وړاندې کوم.زه ستاسو په خدمت کې يم.

**پوښتنه :** ستاسوشوق او مينه د شعر ويلو سره څنګه پيدا شوه، کوم احساس اوچا دې ته وهڅولې، چې دشاعرۍ او ليکواليو ډګر ته مو مخه کړه؟ لمړنى شعر مو کوم شعر وه؟

**ځواب :**
په کورکې دخوشالخان بابا،رحمان باباا و ځينې شعرونو نور ديوانونه وو، چې زماپلار به هغه لوستل. دموقع په مساعديدو سره به ماهم کله ناکله دهغوپاڼې اړولې رااړولې . دانوهغه مهال ووچې زه نوى ژڼى شوى وم ، پدې موسم کې کابوهر څوک شاعرانه احساسات لري، نوماته به يې هم خوندراکوه . په ځانګړې توګه ،دخوشال بابا شعرونه به مې ډيرخوښيدل اودهغه دشعرپه پيروي به مې کله ناکله مات ګوډ شعرهم وليکه . بس همداسې ورو ورو مې دشاعرى خواته مخه کړه.
داچې چاتشويقولم، بايدووايم ، سره لدې چې زمامشرورور قاسم مين به کله ناکله دشوق له مخې شعرونه ويل اوموږته به يې اورول ،لکن زما دخداى بخښلى پلار- سره لدې چې دشعرسره يې مينه درلوده اوهغه به يې وخت ناوخت لوستل- دځينونوروپښتنوپه څير، دشاعرانوسره نه لګيده.دده په اندشاعران بې عمله کسان ووچې په ژوندکې کوم ټاکلى اوواحد دريځ نه لري ، دحالاتوسره ځانونه اونظر بدلوي. خوکومه ورځ يې زماپه کتابچه کې،زما يوشعرليدلى وو، هغه يې خوښ شوى وو، دځان سره يې اخيستى وو اوان ځينوکسانوته يې هم ورښودلى او ستاينه يې کړې وه.ماته يې دومره وويل چې « تاته پته ده چې زمادشاعرانوسره نه لګي ،لکن دغه شعردى ډيرښکلى ليکلى دى اوخوښ مې شو». نور نو ملګرواو دوستانو دشعرليکلوته هڅولم.
زمادشعرونوهغه لومړنى ټولګه چې کابوسل شعرونه پکې وو، رانه ورکه شوه ، نوځکه مې لومړنى شعرهم ندى په ياد. خوکه رښتيا ووايم ،نه پوهيږم چې ولې ،اماخپل شعرونه مې دځينو شاعرانوپه شان،ترډيرې مودې په يادکې نه پاتې کيږي، بلکې وبه وايم چې خپل يوشعرمې هم په بشپړه توګه په ياد ندى.

**پوښتنه:** ستاسو په آند شعر ته کوم تعریف ټاکلی شو، او تاسو د یو شاعر په توګه دشعر او شاعر اغیز د یوې ټولنې د خلکو په راویښولو او د دوی د ملي احساساتو په راپارولو کې څرنګه څیړې؟

**ځواب:**

پکرکوم چې تراوسه دشعرلپاره چاټاکلی تعریف ندی موندلی ،بلکې هرچادخپل درک اوبرداشت یااخیستنې سره سم هغه تعریف کړیدی.زماپه پکر،شعر په شکلیواو منظمو ټکیویا الفاظو کې داحساساتو اوخیالاتو څرګندونه،دپیښواوچاپیریال انځورول دي . شعریواميل دی چې دالفاظو ملغلرې پکې په ډیرهنر،په ډیرمنظم ډول اوترتیب سره ،دعواطفوپه سپانسي کې پییل کیږي. شاعرزما په اند،په ټولنه کې دهنداري بڼه اودریځ لري چې دټولنې احساسات،حالات،تفکراو ذهنیت دشعرپه بڼه بیرته ټولنې ته منعکسوي، اوس داچې دغه هنداره په کومه بڼه هغه منعکسوي ، دادشاعرپه وړتیا،مهارت او څرنګوالي پورې اړه لري.
شاعردحساساتواوعواطفوسره ،سروکارلري ، نوجوته خبره ده چې پرټولنه مثبت اومنفي اغیز شیندلی شي او ښه ، بااحساسه ، وطنپال شاعرکولی شي (بلکې وبه وایم چې دنده یې جوړیږي ) چې دټولنې په راویښولوکې ،دټولنیزو ستونزو لپاره دحل په موندلوکې ،د ټولنې مرسته او لارښونه وکړي.

**پوښتنه:** یو شمیر لیکوال په دې عقیده دي، چې شعر الهام دی خو یو شمیر نور وایي، چې شعر لیکل ریاضت او انساني تجربه ده. مهرباني وکړی په دې اړه خپل نظر راسره شریک کړئ؟

**ځواب:**

زماپه پکر،دواړه ډلې په حقه دي. داسي شاعران هم شته چې شعرورته دالهام غوندې راځي او دوی بیا دژباړونکي په توګه ، هغه ټولنې ته وړاندې کوي، لاکن داسي شاعران هم شته چې شعر لیکل یې د ریاضت اومهارت غوندې زده کړیدي ، دالفاظو ذخیره لري ، اوشعردخپلو احساساتو ، خپل تفکراو خیال دڅرګندولولپاره ،کاروي . په ځانګړې توګه په وروستیو څولسیزوکې دداسي شاعرانوشمیرچې ورته شعرونه لیکي ،ترلومړنۍ ډلې زیات شویدی ،چې زماپه اندکه دادب په ډګرکې ګټې ونلري ، نوزیان یې هم نشته . داسي کسان هم شته چې کابوهره ورځ شعرلیکي . خوهغه کسان چې په شعراوشاعری پوهیږي ،کولی شي چې ددغوووډلوشاعرانو د شعرونوترمنځ توپیروکړي.هغه خوندچې دلومړۍ ډلې شاعرانوپه شعرونوکې شته وي ددویمې ډلې په شعر کې نه لیدل کیږي،البته زماپه پکر.

**پوښتنه:** استاد ګل پاچا الفت وایي:

مينه ګلزار ته بلبلان راولي
بلو ډيوو ته پتنګان راولي
شاه د ګدا زړه ته نژدي کاندي
دخوار جونګړي ته سلطان راولي
که يو په ځمکه بل اسمان کې اوسي
ځمکي ته ستوري د اسمان راولي
او همداسي يو هالنډي شاعر وايي: (شکلا د يوي ستري دښتي په څير ده چي لاروی پکي لالهانده وي، خوهري خوا ته چي ځي يو شکلی بڼ به ويني.)
تاسي مينه او ښکلا په شعر کي څنګه ارزوئ؟
**ځواب:**
زماپه پکرښکلايونسبي مفهوم او پديده ده . مورنه شوکولای هغي ته کچه يامعياروټاکو، هغه په يوه ټاکلي چوکاټ کي راو بليږدو. ښکلاظاهري هم کيدای شي اوباطني هم کيدای شي. ظاهري ښکلابه هغه وي چي په ليدويااوريدو سره يې موږدخوند او خوښی احساس وکړو. باطني ښکلابيايه احساساتو، ذهنيت ، افکاروراو عواطفوپوري اړپيداکوي. نامتو روسي ليکوال ، دستاييفسکي وايي: » ښکلاده چي نړی ته به نجات ورکوي« ، شايدموخه يې دظاهري او باطني دواړو ښکلاګانوڅخه وي ، لاکن چيخوف يوبل روسي ليکوال بياپه کره توګه وايي چي » په انسان کې بايدهرڅه ښکلي وي » ، دلته اشاره د انسان باطني ښکلاته شويده .
ښکلاد هرچاخوښيږي ، ورپسي ګرځي ، لته يې کوي ، خوموندلی يې نشي . ان که مونده يې هم کړي ، هغه ځانګړې وي چي کيدای شي ده ته خوند ورکړي اوخوښيږي به يې ، حتمي نده چي د هرچاخوښه شي. ښکلاښته ، په انسانانوکې ، په چاپيريال کې ، په کايناتوکې ،په هرڅه کې . که څوک يې نه شي موندلی ، شايدتګلاره به يې ناسمه وي ، په هغه څه کې ، په هغه ځای کې به يې نه لټوي چي بايدويې لټوي.
لکه چي مخکي مې يادوونه وکړه، ښکلاته معياراوچوکاټ نشوټاکلی. کله چي موږ خواشيني اوخپه يو، دښکلا بڼه راته تته اوبې رنګه ښکاري . له هغې نه مخ اړوو، نړی راته بدر نګه شي . له هرچااوهرڅه نه غواړو ليرې لاړشو، ګوښه شو. خو کله چي ذهني سکون ولرو، افکارومواړام وي، عواطف موروغ رمټ وي، وچه دښته اوخړه پړه بيدياهم راته يوډول ښکلي ښکاري. دهرڅه رنګ بدل شي، دهغه دليدو، اوريدو او احساسولونه خوند اخلو. پس ښکلا دظاهري نړی په وړاندې، زموږ دباطني کفيت يوډول انځوراوانعکاس دی.
ښکلاښته ، هغه زموږشا اوخوا موجوده ده ،موږورسره هره شيبه مخامخ کيږو. خوکه غواړو هغه ومومو ، موږبايد خپل باطن ته

بدلون وركړو. دباطن هنداره پاکه اوپيجوه کړو،ترڅودشکلا انځورپه کره اوحقيقي بڼه منعکس کړای شي.
ښه اخلاق ، انسان دوستي،دچاپيريال په وړاندې په مسولانه ډول برخوردکول اودهغه سره په غبرګون ياهماهنګۍکې ژوندتيرول ،دبل حقونوته درناوی ، داهغه شيان دي چې کولی شي زموږژوندښکلی ،نيکمرغه او هوساکړي. ښکلا دانسان عواطف اواحساس راپاروي اوهغه غښتلی کوي. ښکلاپه زړونوکې دژوندپه وړاندې دهيلوغوټی غوړوي. ښکلا شاعرد شعر ليکلوته هڅوي.
په شعرکې به دميني په هکله ووايم چې : زماپه پکر مينه دشعراوشاعرۍ دپيل ټکی دی. که مينه نه وای نوپکرنه کوم چې دنورومسايلو دبيان لپاره دي انسانانوشعرته مخه کړې وای.
**پوښتنه:** تاسو دشعر د انځورونو په اړه څه نظر لرئ، عيني او ذهني انځورونه په شعر کې څه توپير لري؟
**ځواب:**
زماپه پکر،شاعرپخپل ذات کې يوانځورګردی ، دپيښواو حالاتو انځورجوړوي ،خوتوپيريې دومره دی چې انځورګر د رنګونو په وسيله داکارکوي ،پداسې حال کې چې شاعربياهمداکاردکلماتواو الفاظو په وسيله ترسره کوي. شاعرچې په چاپيريال ياټولنه اوطبعيت کې دکوم شي ياپيښې نه اغيزمن شي، نوهغه دښکليواو منظموکلماتو اوالفاظوپه وسيله انځوروي اودشعرپه بڼه يې ټولنې ته وړاندې کوي. يابه ووايو چې شعرديوې پيښې ياموضوع اوحالت په وړاندې ، دشاعر داحساس اوتخيل حاصل دی چې دښکليواومناسبوکليماتوپه وسيله يې انځوراوبيانوي. هرشعردځان سره يوانځور لري چې د چاپيريال په وړاندې، دپيښواوحالاتوپه وړاندې ، دشاعردتصور،احساس او تخيل څرګندونه کوي. کله ناکله شاعردخپل احساس دڅرګندونې لپاره مجازي تصويرونه جوړوي چې په ورځني ژوند کې هغه نشوليدلی، شاعردخپل ذهن په هنداره کې هغه انځوروي اودهغه دپوهيدواوليدو لپاره شاعرانه تخيل ته اړتياوي. خوزياتره وخت شاعرپخپلوشعرونوکې دحالاتو اوپيښودواسې انځور هم جوړې چې موږکولی شوهغه په ورځني ژونداوچاپيريال کې وګورو ،ياني يو عيني انځورتخليق کوي.شاعردغه کار،دهغه احساس اوپيغام چې په خپل شعرکې يې رانغښتی وي، دښې څرګندويې او اسانه پوهيدولپاره ترسره کوي.
**پوښتنه:** سيمبولونه په شعر کې او د سيمبوليزم ادبي او هنري مکتب څنګه څيړئ؟
**ځواب:**
سيبوليزم په ادبياتو،موسيقی ،انځورګری کې داتلسمې پيړی په ورستيانۍ کې په فرانسه کې رامخې ته شو، بيايې په نولسمه اوشلمه پيړيوکې وده وکړه اونه يوازې داچې په هنراوادبياتوکې

یې مثبت بدلونونه راوړل ،بلکې دهغوی په وړاندې یې دوګړوپه ذهنونواواخیستنې کې هم بدلون رامنځ کړ. ځینې کسان پدې اند وو چې سمبولیزم په شعرکې دنیغ په نیغه یاپه مستقیم ډول دبیان څخه دتښتې لپاره کارول کیږي،خودسمبولیزم پلویانو بیاتینګارکوه ، چې هغه دشعرهنري شکلا زیاتوي. سمبول دشیانویاپیښودمادي او پکري یاتفهمي ماهیت ترمنځ اړیکه ده. یوه کلیمه یاشکل هغه وخت سمبول ګڼل کیدای شي چې دخپلې اصلي اوڅرګندې مانا ترڅنګه، پریوبل څه ، چې دهغه ترشاپروت دی،هم دلالت وکړي. سمبولونه قراردادي هم کیدای شي چې دټولنې له خواد کالونواوپیړیوپه اوږدوکې منل شویدي او کارول کیږي ، فردي او نوښتیزه هم کیدای شي چې هنرمندان، شاعران ،لیکوالان ،انځورګران اونور هنروال یې دپیښواوپدیدو د بیان لپاره نوي رامنځته کوي. سمبولیست شاعر، دانځورونوپه وسیله ،سمبولیکه پروسه یابهیرداسې بیانوي چې لوستونکی کولی شي په اسانی سره دانځورونواوکلماتوترشا پراته مفاهیم او رازونه ، درک کړي اوپرې پوه شي. زه پخپله هم پدې اندیم چې سمبولیزم دشعرښکلازیاتوي اوهغه لاهم په زړه پورې کوي.

**پوښتنه:** ستاسو په نظر د ادبي سبک اومکتب تعریف څه دی، او یو ادبي سبک او مکتب څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟ ولې په معاصره دوره کې ادبي سبک او مکتب نشته. آیا ورته کار نه دی شوی او که دا حق څوک نه لري؟

**ځواب :**

سبک چې دستیلوس یوې یوناني کلمې څخه اخیستل شویدی، هغې فلزي یادلرګیوالې الې ته ویل کیدل چې په وسیله به یې ،حروف یاټکي دمومي لوحې پرمخ نښول کیدل.په ادبیاتوکې هغه طرزاوطریقه ،دکلماتواو مفاهیم دکارولو کړنلاره ، چې یولیکوال یاشاعریې دخپلو خیالاتو دبیان اوڅرګندونې لپاره غوره کوي، اوهغه یې پخپله رامنځته کړې اولېترلېږه دنوروسره توپیر ولري، سبک بللی شو.
کله چې ټولنه پرمختګ کوي ، نوي مفاهیم ، نوي ارزښتونه رامنځ ته کیږي ، چې دبیان لپاره یې نوي روش ،نویو تګلارو، نویومفاهیمواوکلیماتوته اړتیاپیداکیږي. زاړه مفاهیم اودبیان لارې، ددې جوګه نه وي چې هغه په سمه او بشپړه توګه دپوهوي لپاره وړاندې کړي ،نو زماپه اندهمدادي لامل کیږي چې د بیان لپاره هم نوی سبک یاتګلاره ولټول شي.
داچې په معاصره دوره کې ولې نوی سبک نشته اویاڅوک ددې حق لري یایې نلري ،باید ووایم چې ، زماپه پکرسبک داړتیاله مخې رامنځته کیږي ، دچاپه ځانې غوښتنه نه ،نوښکاره خبره ده چې

دحق لرلویانه لرلوموضوع نده مطرح. شایدچې تراوسه ورته
اړتیانه وي پېښه شوې.

**پوښتنه:** سپن شعریا نوی اوآزادشعراو کلاسیک شعر څه
توپیر لري؟ یو شمیر شاعران په دې عقیده دي، چې سپین
یا آزاد شعر په پښتو ادب کې له ډېر پخوا څخه موجود
وه. تاسو په دې اړه څه نظر لرئ او دا راته وویاست،
چې دآزادیا سپین شعرمفکوره دچاله خوا چیرته او څنګه
را پیدا شوه؟

**ځواب:**

دهغه مالوماتوله مخې چې زه يې لرم،دازادشعراصطلاح دلومړي ځل
لپاره په انګریزي ادب کې د ریچارډالډینګټون ( **Richard**
**Aldington**) لخواد تصوري نظمونوپه سریزه کې یاده شوې وه،
خوویل کیږي چې ترهغې دمخه هم ازاد شعرموجودوو.ازادشعرهم
دبلې هرې نوې پدیدې په شان ،ځانته پلویان او مخالفین هم
درلودل . دلومړۍ نړیوالې جګړې وروسته، چې دنړۍ په سیاسي
،اقتصادي اونورو برخوکې ژوربدلونونه راغلل، ازادشعرهم په
ادبیاتوکې دیوه نوي بدلون په توګه ، دیوه خپلواک صنف په بڼه
کې ، رامخې ته شو،چې وروسته یې دنړۍ په نورو هیوادونوکې هم
لاره وموندله .
زموږ ځینې شاعران یالیکوال ،ازادشعرپه سمه توګه نه کاروي ،
دوی یوشی ولیکي بیایې په لنډواوږدو جملو وویشي اوورته
دازاد شعریانظم نوم ورکړي ، چې زماپه پکر داسې نده ، بلکې
هغه بایدشعریت ، رتم یا اهنګ ولري ، یوپیغام پکې نغښتی وي .
سره لدې چې بیتونه به یې یو اوبرابر وزن نلري ،خو وزن باید
ولري یا، هربیت یې دشعرپه بڼه ولوستل شي .
دپښتوپه نوي ادب کې ،سره لدې چې ځینونوروشاعرانو تردې دمخه
نوی شعریاازاد نظمونه لیکلي دي ، خودپښتوستر فلسوف
اوشاعرغني خان پدې برخه کې مخکښ وو. همدارنګه داجمل ختک،
مفتون، قلندر،پریشان ختک اویولړنورونه یادوونه هم بایدوکړو.
سپین شعربیا زماپه پکر،دازاد شعرسره یوڅه توپیرلري ، هغه
وزن لري خوقافیه نلري چې لادپخوانه یې په ختیځوژبو کې دمصري
شعرپه بڼه شتون درلود.

**پوښتنه:** زموږ یوشمیر ادبي او فرهنګي شخصیتونه په دې
عقیده دي، چې دشعر په پرتله باید نثر ته زیاته
پاملرنه وشي. تاسو په دې اړه څه نظر لرئ اوستاسو په
آند دخلکوپه راویښولواو دملي احساساتوپه راپارولو کې

شعر زيات اغيز لري او که نثر؟ آيا تاسوهم نثرونه ليکلي دي اوکه نه؟

**ځواب :**

زماپه پکر دواړه ، هم شعراوهم نثرکيداى شي چې اغيزمن واوسي. داچې کوم يوبه يې ډيراغيز ولري ، دهغوی په څرنګوالي اوکفيت پورې اړه لري. په نثرکې ليکوال هڅه کوي چې خپل خيالات اوپيغام ترمخاطب پورې ورسوي ،لکن په شعرکې ددې ترڅنګه داهڅه هم کيږي چې هغه په ښکليوتکيويا الفاظوکې او په اغيزمنه توګه ترمخاطبه پورې ورسيږي. خو زماپه اند ،ډيرداسي شيان شته چې په نثرکې ورته ليکوال دځينوټولنيزو ملحوظاتوله کبله ،ګوته نشي نيولى، لکن زموږ دټولني ذهنيت اومينټيليټي ،شاعرته پدې برخه کې يوڅه ازادي ورکړې ده . بله داچې ، ډير داسي موضوعات او مسايل هم شته چې دهغو بيان دشعرپه ژبه ياخوبه داچې ناشوني وي اوياخوهم ستونزمن ،امادنثرپه ژبه هغه په اسانى سره دلوستونکو اواوريدونکوپورې رسول کيدى شي، نوځکه زه پکرکوم چې دواړوته اړتياده . خوکه څوک ښه شعرليکلي ، بايدموږپرې زور وانچوو اوياهم دى پخپله پرځان زور وانچوي چې هرومرودې نثروليکي ، اوهمدارنګه ،هغه ليکوال چې ښه نثرلری ، ضرور نده چې شعردې هم وليکي. دسترخوشال خبره چې : هرسړى پيدادى خپل ، خپل کارلره کنه .

مادشعرترڅنګه په نثرکې هم لږاوډيرکارکړيدى ، پربيلابيلوموضوعګانومې مضامين او مقالې ليکلې دي چې دهيوادپه ځينوچاپې اواليکترونيکي رسنيوکې خپارې شويدي. همدا رنګه ،ځينې لنډې کيسي او ناولونه مې هم ليکلي دي چې تراوسه مې چاپ کړي ندي. برسيره پردې مې ، په هندکې دپښتنو يا افغانانودواکمنى په اړه او دپرديواويرغلګروپه وړاندې دجنوبي وزيرستان دمسيدو د قوم دهاند اومبارزې په باب مې هم يولړڅيړنې کړې اومالومات مې سره راغونډ کړي دي چې په راتلونکې کې يې ،که خداى (ج) غوښتي وو، دچاپ نيت لرم .

**پوښتنه:** د پښتو په ادبياتو کې د نثر له ډولونو څخه هنري او څيړنيزو نثرونو ته زياته پاملرنه شوې ده او خلک يې ډير خوښوي. تاسو د پښتو ژبې دعلمي او ادبي کولو، ودې او پرمختګ لپاره دهنري او څيړنيزو نثرونو اساسي ځانګړنې څه ډول څيړئ؟

**ځواب:**

نثرچې په لغات کې پاشلواوتيت کولوته وايي، هغه وينادہ چې دوزن اوقافيې پابندنه وي. موږپه ادبياتوکې هنري ،څيړنيزاوتاريخي نثرونه لروچې په دوه برخوويشل شويدي. مسجع

نثراومرسل نثر. په مرسل نثرکي وزن اوقافيې اوهنرته پاملرنه نه وي شوي ، اوپيښي په همغه بڼه ، څنګه چې رامخې ته شوې وي ، بيانيږي. لاکن مسجع يوڅه منظومه بڼه لري.
دپښتونثر، دعلامه حبيبي له مخې ، دسليمان ماکوتذکره الاوليا دی،چې په اوومه پيړی پوري اړه پيداکوي او خيرالبيان چې بايزيدپيرروشان په لسمه پيړی کې ليکلی دی، دپښتونثرلرغوني اثار دي.
داادب ډګرته دسترخوشالخان په رادننه کيدوسره ، دپښتونثربدلون مومي. پښتونثرخوږوالی ، رواني او ساده بڼه غوره کوي، چې بيلګه يې دخوشالخان باباپه دستارنامه کې موندلی شو.
دځين ليکوالواوادیبانوپه اند ، دپښتوداوسنی نثر،پيردامیرشيرعلی خان له وخته راپيل شوی،خوځينې کسان بياپدې عقيده دي چې دغه پيردخوشالخان ختک له مهاله پيل شويدی .
تولوته جوته ده چې پښتولکه څنګه چې لازمه وه ، وده نده کړې .سره لدې چې په وروستيو څولسيزوکې ، پدې برخه کې دياددوونې ورهلي څلې شوې دي اوترډيره بريده يې لاسته راوړنې هم درلودلې دي،موږګڼ شميرتکره نثرليکونکي لرو، اما نوروهلوڅلوته اړتياشته .په شعرکې ترډيرې کچې کارشويدی اونن ورځ کابوهرليک لوستی پښتون شعر ليکي ، خود نثرپه ډګرکې لاډيروهڅواو کړنوته اړتياده . هنري اوڅيړنيزي ليکنې کولی شي چې زموږسره دمسايلواوحالاتو،په تحليل ،پوهيدنه اوستونزوته دحل دلارې په موندلو کې مرسته وکړي او زموږدژبې په وده اوپراختياکې هم ګټورتمام شي .
**پوښتنه :** ويل کيږي، خوشحال خان ختک لکه څنګه چې پښتوشعراو نظم شکلي او رنګين کړ، همدغسې په نثر کې هم ديوه داسې هنري نوښت بنسټ کيښود چې اوسنی پښتو ادب پرې وياړي. که تاسې يې له څومره ييز او څرنګيز پلوه پرهنري او ادبي نوښتونو يوه لنډه رڼا واچوئ!
**ځواب:**
خوشالخان ختک دپښتوادب يوه لويه شتمني ده . دی هراړخيزه شخصيت وو. نوموړی نه يوازې اديب ، بلکې يو فيلسوف، منجم ، حکيم ، تاريخ ليکونکی ، جرنيل ،نقاد اوصوفي هم وو. خوشالخان بابا پداسې مهال دپښتوادب دودې او دوديزه کولو لپاره ملاوتړله چې ، په پښتوژبه کې ليکل شوي اثارډيرمحدود کابونه وو. که وايوچې نن ورځ پښتودهمدغې لويې اوسترې هستی له برکته ژوندی پاتې ده ، نوشايد چې مبالغه مونه وي کړې . زما په باور، خوشالخان بابا بايدنړی دسترو ليکوالو اواديبانو په ليکه راغلی وای ، لاکن داچې هغه نړيوالوته ندی ورپيژندل

شوی او دنړی دادب دمینه والو له نظره یوځنډي او ګوښه پاتې شویدی ، دابیابیله خبره اوځانته لاملونه لري. علامه اقبال لاهوري چې په ژوره توګه د خوشالخان خټک تراغیزې لاندې وو، داسې انګرینه شته چې ، پخپلوزیاتروشعرونوکې یې دخوشالخان څخه الهام اخیستی دی ، خونن ورځ هغه په نړیواله توګه پیژندل شوی دی ،اماخوشالخان خټک دهمغه دریځ نه برخوردار ندی .
خوشالخان خټک ، نه یوازې دادب په ډګر کې ، بلکې په هرډګر کې اتل وو. دده په لیکنوکې دهرډول ذوق لرونکی دځان لپاره یوڅه موندلی شي. شایدخوشالخان بابا به لومړنی ادیب او شاعر وي چې دپښتنودملتپالنې احساسات او جذبات یې په خپلولیکنو اوشعرونو کې ،څرګندل کړي اوپښتانه یې دیوه واحدملت جوړونې ته رابللي.نومړي لکه څنګه چې په شعرکې همداډول په نثرکې هم ځانګړنه درلوده . ده په هغه کې یولوی بدلون راوست .
ترخوشالخان خټک دمخه شته اثار ، مسجع او یوازې دیني مسایل او تصوف ته پکې ځای ورکول شوی وو،چې دیوه ټاکلی مکتب بڼه اودریځ یې درلود، اما خوشالخان خټک دساده اوعادي نثرپه لیکلوسره، دیوه نوي مکتب بنسټ کیښود چې وروسته یې نورو ادیبانو اولیکوالان پیروي وکړه .

**پوښتنه:** پښتو غزل هغه ژانر او صنف دی، چې دعشق او جذباتو سره تړاو لري. تاسو دپښتو غزل اصالت او سنتي ځانګړتیاوې په څه کې وینې؟ آیا په اوسني حالاتو کې دپښتو غزل دنورو ژبو دغزل سره سیالي کولای شي او که نه؟

**ځواب:**

که په غزل ،په تفصیل سره خبرې وکړو ،نوشاید دابه ډیروخت ونیسي ،پدې هکله نوروادیبانواو شاعرانو هم ډیرې ګټورې خبرې اولیکنې کړیدي ، نوزه به هڅه وکړم چې په لنډډول پروغږیږم.غزل په لغت کې عاشقانه خبرې کولوته وایي اولکه څنګه چې پخوا منل شوې وه ، دمیني اومحبت د احساساتو اوخیالاتودڅرګندولولپاره کارول کیده . غزل هغه شعردی چې لومړی بیت او دنورو بیتونو دویم بند یې ګډ ه ،قافیه او ردیف ولري ، دبیتونوشمیریې دځینوپه اندله شپږونه تردوولسوپورې وي ، ځینې بیاهغه دپنځونه ترپنځلسوپورې یادوي . خو نن ورځ دژوندانه دنورو اړخواوبهیرونو په څیر،په غزل کې هم بدلونونه راغلي دی ،دهغه پیځه اولمن ، ارته او پراخه شویده .
شاعرانونورمسایل هم په غزل کې رابلیږدلي دي ،چې دغزل خونداورنګ یې شاید زیات کړي وي. په پښتوشاعرۍ کې ، غزل خپل ځای لري اوزموږ زیاتره شاعران ،په ځانګړې توګه ځوان نسل ورسره ډیرلیوالتیااو علاقه ښايي. دپښتوپه ادب کې سترخوشالخان

ختک ،غزل ته رنګينه ورکړې ، په هغه کې يې دميني اومحبت
ترڅنګه دپښتني محلول اوچاپيريال انځورونه هم کړيده ،دتورې
اوميړانې ستاينه يې پکې وکړه . همدارنګه بياحمزاباباهم
پخپل وارسره دپښتوغزل ته ځانګړې شکلاوروبخښله چې دغزل دبابا
لقب يې هم ترلاسه کړيدی :
ستاپه انګوکې د(حمزا) دوينوسره دي
ته شوې دپښتوغزله ځوان زه دي باباکړمه
لکه مخکې مې چې يادوونه وکړه ، پښتوادب دغزل په برخه کې ښه
وده اووړاندې تګ کړيدی او زه په ډاډسره ويلی شم چې
زموږدپښتوژبې غزل، په بشپړه توګه کولی شي چې دسيمې اوان د
نړۍ دنوروژبو،دغزل سره سيالي وکړي.

**پوښتنه:** ارسطو وايي: (دشاعر وظيفه د اسطورې جوړول
دي). ستاسوپه آند شعر د اسطورې سره څه اړيکې لري، او
اسطورې د پښتو پر شعر څه اغيز لري؟

**ځواب:**

زماپه اند لکه څنګه چې دشعرلپاره تراوسه چاټاکلی
اوواحدتعريف نه موندلی ،همدارنګه داسطورې په اړه هم بيلابيل
نظرونه موجوددي. اسطورې به عاميانه کيسواونکلونوته ووايوچې
شفاهي او کتبي بنه لري او دتخيل پربنسټ رامنځ ته شويدي . په
هغوکې زياتره دحق اوباطل ،خيراوشر ،ښيګڼې او بدګڼې ، ترمنځ
دکشمکش اومبارزې په هکله دشعريانثرپه ژبه ،نکل کيږي. دغه
افساني دهغو کرکترونو،پيښوپه تړاو جوړکړی شوې وي چې زياتره
خيالي اوماورای انساني بڼه لري او په ټولنه کې
دنويوبدلونود رامنځ ته کيدولامل ګڼل کيدل . دپښتوپه ادب کې
هم استورې خپل ځای درلوداولري يې . هغه د پيړيوپه اوږدوکې
ديونسل نه بل ته ليږدول کيږي. هغه نکلونه (زموږدمسيدوپه ژبه
کې ورته مسالی وايي ) ، چې موږته به خپلو بوډاګانواو
نياګانوپه وړکتوب کې ويلي- دديوانواو ښاپيريوکيسې -
زموږدشفاهي ادب يوه برخه ده او هرماشوم يې په ډيرخونداو
غورسره اوري. خواوس دنويو ټکنالوژيوپه رامخې ته کيدوسره ،
شايد دهغوی رنګ او رول لړغوندې کمرنګه شوی واوسي.

**پوښتنه:** زموږ د پښتولرغونی ادب دحماسو نه ډک تاريخ
لري. تاسو په پښتو ادبياتو کې او په ځانګړې توګه په
شعر کې د دغو حماسو اغيز څه ډول ارزوئ؟

**ځواب :**

په حماسي شعر کې ديوقوم ،ملت ياشخص ميړانه ،ملي احساس ،
جګړه ايزې وړتاوې ، وياړونه او اتلوالي بيان اوستايل
کيږي.زياتره پکې ځانګړيو او ديوه عام وګړي دتوان اووس نه

وتليو پيشوته اشاره شوې وي. دهغه څه يادوونه پکې کيږي چې هرڅوک ياهرملت اوقوم يې جوګه نه وي.
په پښتوادب کې خوحماسه ،زماپه اندځانګړی ځای اواورد تاريخ لري. درنجيت سنګ په وړاندې د فيروزخان جګړه ، دانګليس په وړاندې دافغانانودجګړوحماسې ، دميوندپه ډګرکې دپښتني پيغلې ملالې دکارناموحماسه چې (که په ميوندکې شهيدنه شوې...) اوداسې نورې،چې دپښتو ادب ته يې ځانګړې ښکلاورکړيده .همدغه حماسې دي چې زموږپه ولس کې يې دوطنپالنې ، دخپل ولس او خپلې خاورې په وړاندې دمينې ، پرخپل ځان ډاډاودپيښوپه وړاندې د نه تسليميدو روحيه ژوندۍ ساتلې ده.

**پوښتنه:** په ځينو آسيايي هيوادونو کې فلکلوريک اشعار لکه هايکواو داسې نور ويل کيږي. تاسودپښتو ادب دلنډيو په پرتله دغه ډول اشعار څه ډول څيرۍ؟

**ځواب :**

هايکوچې د پنځه لسمې پيړۍ په ترڅ کې په جاپان کې د هاکو په نوم دادب ډګرته راووته ،په اوولسمه پيړۍ کې يې وده وکړه اوپه نولسمه پيړۍ کې جاپاني کره کتونکي مکاوکا سيکي ورته دهايکوننی نوم ورکړ، يوجاپاني فلکوريک ياولسي سبک دی چې اوس يې دنړۍ دنوروولسوپه ادبياتوکې ،دهغوله ډلې،په پښتوکې هم مينه وال پيداکړيدي. موږپه پښتوکې هم څه ناڅه ورته فلکوريک طرزونه لرو،لکه تاريخي نارې ،کاکړي غاړې اونور...

دلنډۍ په اړوندبه ووايم چې ، زماپه پکر،دپيغام دليږدولوپه لحاظ ، پښتولنډۍ دنړۍ په ادبياتوکې ځانګړی ځای لري.
پښتولنډۍ ، يولوی سمندر په کوزه کې ځايوي. هغه څه چې په يوه واحده لنډۍ کې بيانيږی ، کيدای شي سرې پرې کتاب وليکي .
خودابيابيله خبر ه ده چې هغې ته کارندۍ شوی اودنړۍ دادب مينووالوته، نه ده ورپيژندل شوې.

**پوښتنه:** په پښتو ادب کې د متلونو په برخه کې څه نظر لرئ اوپښتو متلونه دنوروژبو دمتلونو په پرتله څه ډول ارزوئ؟

**ځواب :**

متلونه ديوې ټولنې ياولس دتهذيب ، تمدن، کلچردپيړيوپيړيو ، نيکات (ميراث) بللی شو،چې د زماني په اوږدوکې دهغه ولس د پوهې ،کړو وړو، دستونزواومسايلوپه وړاندې دهغوی دتدبيراو عکس العمل څرګندونه کوي. دمتلونو له پلوه پښتوډيره بډايه اوشتمنه ژبه ده ، دژوندانه د هرې مسلې ، دهرې ستونزې دحل ، دټولنيزواخلاقو ، وطنپالنې اوولسپالنې ، انسانپالنې او

چاپیریال پالنې په برخوکې ، دارزښت ورمتلونه لري. زموږپه ولس کې ، متلونه په جرګو، مرکو، مجلسونو اوبحثونوکې ،همدارنګه ادب کې دموضوع اوادعا دپخلې لپاره ،په پریمانه کچه کارول کیږي . دغه متلونه ، دپیړیوپه اوږدو کې موږته دخپلومشرانواو نیکونو نه په نیکات کې پاتې ، چې د ژوندانه په هردګرکې ، په ځانګړې توګه دروزنې او سمونې په لاره کې ترې ستره ګټه پورته کولی شو.

**پوښتنه:** تاسو دادبي نقد او کره کتنې په اړه څه نظر لرئ، او دا راته وویاست، چې ولې په هیواد کې دننه او بهر دادبي نقدونو په اړه ادبي مرکزونه، چې هلته با صلاحیته ادبي او فرهنګي منتقدین او کره کتونکي موجود وي نه جوړیږي؟

**ځواب :**

لکه دژوندهره پروسه ، دپیښوهربهیر، هرخوځښت ، ادبیات هم دخپلې ودې اوپرمختګ لپاره هڅونې ، سمون یا اصلاح او تشویق ته اړتیالري.ادبي کره کتنه ، دیوه ادبي اثرپرتله کول، غورچاڼ او دشیګڼو اونیمګړتیاوو، په ګوته کول دي. یوکره کتونکي ته ښایي چې دکره کتنې په وخت کې دیوه اثرښیګڼې رابرسیره کړي، هغه وستایي او وهڅوي . نیمګړتیاووته یې ګوته ونیسي او دهغو دسمون یا اصلاح وړاندیز هم وکولی شي. یانې داسې نه چې نیمګړتیاته ګوته نیسي ،لکن دسمون لاره یې ورته څرګنده نه وي.

زماپه اندپه هیوادکې دننه اوپه دیره لږه کچه ،چې کیدای شي دنشت په توګه یې وبولو ، په بهرکې ځینې ټولنې جوړې شویدي چې وخت ناوخت دادبي اثاروکره کتنې کوي، لکن داچې په هغو کې دې تکړه ، دوړتیالرونکې اوباصلاحیته کره کتونکې ګډون ولري، زه پخپله ډاډه نه یم. په ټلویزیونو ، راډیوګانوکې ، ادبي ټولنواو بهیرونو کې ، ځینې غونډې ترسره کیږي ، خوابتدايي بڼه لري او زماپه اند دقناعت وړیې نشوبللی. پدې اړه هڅواوهاند ته اړتیاشته .

**پوښتنه:** په یوه ټولنه کې چې د عقایدو او فرهنګ سانسور واکمن وي ، ستاسې په اند په یو شاعر او لیکوال باندې څه اغیز لري ؟ شاعر او لیکوال څنګه کولای شي له دې ډول ناخوالو سره مبارزه وکړي ؟

**ځواب:**

سانسورچې دسینسوس یاسینسر(دنظرڅرګندونه، څارنه ) لاتیني کلمې څخه اخیستل شویدی . په پخواني روم کې دسانسوردچاروواکودنده

دوګړودشمیرنې ،دمالیې دکچې ټاکل او اخلاقي کړووړو ،څارنه وه.
خودچاپیزورسنیوپه رامخې ته کیدوسره دسانسوربڼه هم بدله شوه
زماپه پکر ،سانسوراصلاپه ټولنې کې دټیکاو او هغمړی لپاره
رامنځته شوی وو،چې ددولتي او رسمي بنسټونوله لوري به پرمخ
بیول کیده ، امادوخت په تیریدو سره ، اشخاصواو نظامونو هغه
د هغونظریاتو، اطلاعاتو اوافکارو چې دخپل واک او ځواک لپاره
یې ګواښ ګڼل ، دځپلو لپاره ، دیوې وسیلې په توګه کارول پیل
کړل. مذهبي کړیواودولتي چارواکو دخپلومخالفینودځپلولپاره
دهغه نه په بیلابیلوپلمو ګټه پورته کوله،چې جوته خبره د نړۍ
کلتوراوفرهنګ ته یې تردیره بریده زیان رساوه.دادب اوفرهنګ
په ډګر دنویو تخلیقونودلارې پر سریولوی خنډوګرځیده اودغه
بهیریې وشیمن یاوروکړ.
ددریمې نړۍ او په هغه هیوادونوکې چې دسیکولریزم پراصولوندي
روان، له سانسورنه ډیرکار اخیستل کیږي .خوپه نورو
هیوادونوکې هم چې بیلابیل نظامونه لري ،سانسورپه یوه نه یوه
بڼه شتون درلوده اولري یې .

که په ټولیزه توګه خبره وکړو ، سانسورلیکوال ،هنرمند اوشاعر
،دې ته اړباسي چې هغه څه چې په ذهن کې یې لري اوغواړي
دنوروسره یې شریک کړي، په بشپړه توګه بیان اوڅرګندنه کړای
شي. خپل بیان دیوه چوکاټ په کړی کې راولي،بریدورته وټاکي
اومحدودیې کړي. له خپلوځینو افکارو نه تیرشي، یایې پداسې
یوه پیچلې بڼه وړاندې کړي چې هرڅوک یې دپوهیدووړتیا ونلري.
سانسورداستعدادونودوې په لاره کې هم خنډجوړیږي،
دهغودغوړیدااوغښتلتیامخه نیسي.
خونن ورځ ، د ډله ایزورسنیو اوپه ځانګړې توګه ،دالیکټرونیکي
رسنیودپراختیاپه وجه ، دنړیوال کیدواو ولسونو دنژدې کیداله
برکته ، شایددسانسورپلي کول هم که په بشپړه توګه ناشوني نه
وي نو ستونزمن شوي هرومرودي. دهرډول نظریاتو، مالوماتو،
افکارو اوپیښونه چې موږوغواړو ځان خبرکړو، نودنړیوالوډله
ایزو رسنیوله لارې په ځانګړې تود انټرنیټ له لارې ،کولې شوپه
اسانۍ هغه ترلاسه کړو. له بله پلوه ،رسنۍ پخپله په یوه ځواک
او خپلواک لوري ،بدلې شویدي چې په اسانۍ سره دهغو کنټرول
ناشونې ښکاري.

**پوښتنه:** یو شمیر شاعرانو او لیکوالو د خپلو څیړنیزو
اونوښتګرو کارونو او فعالیتونو لپاره د بهرنیو
لیکوالوآثاراو شعرونه ژباړلي دي. ستاسو په نظر د
بهرنیو آثارو ژباړه او یا زموږ د آثارو ژباړه په
نورو ژبو کې د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه

اغیز لري؟ او دا راته وویاست آیا تاسو هم بهرني آثارژباړلي دي او که نه؟

**ځواب :**

لومړی به پدې اړه وغږیږم چې ماژباړې کړیدي که نه ، بیابه دژباړې دګټوپه اړوندهم خپل نظر څرګندکړم.

هو،ماد بهرنی ژبې نه ژباړې کړیدي. دروسي ژبې نه مې دوه کتابونه چې یویې (جګړه ) اوبل یې (غښتلي وګړي ) نومیږي ، پښتوته ژباړلي دي ،چې جګړه کتاب چاپ شوی او غښتلي وګړي چاپ نشو. دانګریزي ژبې نه مې هم یوکتاب چې په هندکې دپښتنویاافغانانودواکمنی په اړوندوو، ژباړلی وو، بیامې یوتاریخپوه اولیکوال ته چې دلته یې نه غواړم نوم واخلم ،ورکړترڅو هغه وګوري او نیمګړتیاوې یې بشپړکړي، نظرپرورکړي اومخکتنه یې وکړي . لاکن دبده مرغه چې دڅه مودې تیریدونه پس ، کله چې مې ورنه دهغه پوښتنه وکړه ، نوویې ویل چې هغه ورکه شویده . نوهغه په همدې توګه ضایع شو. نورې ځینې ژباړې هم ترلاس لاندې لرم چې دوخت په مساعدیدوسره به یې که خدای(ج) غوښتي وو، دهیوادوالو په وړاندې کیږدم.

زماپه نظردبهرنیوشاعرانواولیکوالان داثاروژباړل پښتوته نه یوازې داچې دپښتوژبې دودې او غښتلتیا لامل ګرځیدی شي ، بلکې دامرسته هم کولی شي ،ترڅوموږدنورې نړۍ له ادبیاتو، دهغوی دژوندانه دطرزاودنړۍ په وړاندې دهغوی دتفکر اودرک څخه خبرشو. دهغوی تجربې ، دعلم اوتکنالوژۍ په ډګرکې ،دهغوی د پرمختګونو لاملونه ځانته رابرسیره کړو اودخپلې ټولنې په وده او هوساینه کې ترې ګټه واخلو. همدارنګه ، دپښتواثاروژباړل نوروژبوته ،زماپه اندکولی شي چې نورو ته ، زموږدکلچر،زموږ دمعنوي ارزښتونو، زموږ دتاریخ په ورپیژندلوکې غوره ونډه ولري. موږډیرداسې ارزښتونه لروچې دویاړ وړدي ، لاکن داچې کارندی ورته شوی ، هغه دنړۍ دسترګونه خوندي پاتې دي. دهمدې لارې نه کولی شوهغه دنړۍ دسترګوپه وړاندې کیږدو او ور ویې پیژنو.

**پوښتنه:** دلر او برو پښتنولیکوالو، ادیبانواوشاعرانود ګډو هلوځلو او فرهنګي فعالیتونو په تړاو مو نظرڅه دی؟

**ځواب :**

په وروستیوځولسیزوکې ،دلرواوبروپښتنوترمنځ اړیکې غښتلې شویدي ،ادیبانواوشاعرانوته دغه موقه په لاس ورغلې چې دیوبل سره ناسته ولاړه وکړي اودخپلې ژبې ،خپل کلچراوخپل ادب لپاره ګډې اغیزمنې هلې ځلې وکړي ،چې له نیکه مرغه ډیرې لاسته

راوړنې يې هم لرلې دي،خوسره لدې ماته دغه هڅې اوهلې ځلې کافي نه ښکاري ،بلکې کيداى شول چې تردې زياته ګټه ترې پورته کړى شوې واى .تراوسه موږلا يوه ګډه ليک ژبه نده موندلې اوټاکلې . اوس هم ډيرى لرپښتانه دبروپښتنوپه ليکنوسم نه پوهيږي، شايديولامل يې داهم وي چې بروپښتنو دپښتو دسوچه کيدوياودې په ترڅ کې ،هڅه کړيده چې پښتوله سره جوړه کړي اودنورو ژبو دلغاتونو لپاره چې په پښتوکې کارول کيږي اوهرپښتون وربانديپوهيږي ، نوي اوزياتره وخت له ځانه لغاتونه جوړکړي چې زماپه پکر،دانه يوازي داچې پښتوپياوړې کولې نشي بلکې دپښتودودې مخه نيسي اودغه بهيرټکنى کوي. موږلراوبرپښتانه بايديوه ګډه ليک ژبه ولرواوددې کارلپاره لروپښتنوته ښايي چې دځينو شيانونه تيرشي اوبرپښانه هم دځينوشيانونه لاس واخلي . دبيلګې په توګه : داونى نومونه چې دبرپښتنوپه منځ کې ځينې کسان هڅه کوي چې دخپل ځانه جوړکړي نومونه لکه يوه نى ،دوه نى. په ټولوپښتنووروتپې ،حال داچې زموږلرپښتانه ددې لپاره نومونه لري ،لکه خالي ،ايتوار... موږ ددې پرځاى چې دځان نه نوي نومونه جوړکړو،هغه شته ولې نه دود کوو؟!

**پوښتنه:** تاسو دشعر او شاعرى په ډګر کې سياست ته هم وارد شوي ياست او سياسي شعرونه مو هم ليکلي او که نه؟

**ځواب:**

دتيرځولسيزوپه اوږدوکې زموږپه خاوره کې داسې پيښې وشوې اولاخوکيږي چې زموږ دټولنې او وګړودفعاليت او کړووړو هره برخه يې دسياست تراغيزې لاندې راوستې ده. پداسې حالاتوکې به که غواړې يانه غواړې ، دسياست تراغيزلاندې راځې. که د هغو ستونزو ،مسايلو، کړکيچونو، چې زموږ ټولنه ورسره لاس اوګريوان ده ، بيانول ،غندل ياورنه سرټکونه ،دهيواد اوولس دبدمرغى لاملونه اولاملين په ګوته کول ، دستونزودحل لپاره دخپل ذهن اوپوهې سره سم ،ديوې لارې او حل وړانديز، سياست وبولو ، نو مابه هم سياست ته مخه کړې وي. ځکه داهغه مسايل دي چې زماد وروستيوشعرونو اوليکنوپه ترڅ کې ورته اشاره شويده .

**پوښتنه :** تر هغه ځايه چې زه خبر يم تاسو د وزيرو اومسيدو د توکم په تړاو يو تاريخي کتاب هم ليکلى دى، مهرباني وکړئ په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

**ځواب :**

هو، ماپدې اړوندهڅه کړيده چې دپرديواو يرغلګروپه وړاندې ،دجنوبي وزيرستان دمسيددقوم د مبارزې او هاندپه هکله مالومات سره راغونډکړم او دوخت په بهيرکې دهغوپه څرنګوالې

رناواچوم . پدي اړوندمې دبيلابيلو تاريخ پوهانو، ليکوالانو اوپيښه ليکونکو ليکنې، شواهداو نظريات ، راغونډکړي اوځيړلي دي چې هيله کوم په نژدې راتلونکې به وکولى شم هغه دمينه والوسره په چاپي بڼه شريک کړم.

**پوښتنه:** ستاسوپيغام د يو ليکوال اوشاعرپه توګه په هيواد کې دننه او بهرځوانو ليکوالو او شاعرانوته څه دی؟

**ځواب :**

پيغام به نه ورته وايم ، بلکې هيله به يې وبولم يابه هم دزړه خواله ورسره وکړم.

يوه ورځ يوه دوست دټوکوپه ژبه راته ګيله وکړه :ويل يې » افغانستان پرروسانواستاداولميرونيوه ، په سندروکې يې ويل چې -ای زماوطنه دلعلونوخزانې زماـ هغه ووچې روسانو دخزانوپه لټه کې زموږپرهيواد يرغل وکړ،خوو يې ليده چې نه خزانې وې اونه خوهم لعلونه «. ده وويل : داتاسوشاعران يې چې زموږ وګړي ارام ژوندته نه پريږدئ. غټې ،غټې خبره ورته کوئ، چې نه پوهيږم »لاتراوسه يې مغزه په قرارندی....« موږهغسې يواودغسې يو. په ولس کې دجنګ جګړې احساسات راپاروئ او...

سره لدې چې ده به شايدټوکه کړې وي ، لاکن په هرټوکه کې درښتياپوځه فيصدي شته وي. زموږځينې شاعران اوليکوالان شته چې ولس ته دغيرت او ميړانې ناسم تصوراوانځوروړاندې کوي ياپوازې هغه پيښې ورته بيانوي چې موږ پکې ځانونه بريالي ګڼو.

خوموږهم دنوروولسونوپه شان انسانان يو. هرانسان په ژوندکې دبرياووماتو،لوانګو اوپيچومو، جګو اوتيټو سره مخامخ کيږي. موږهم په ژوندکې ددواړو سره مخامخ شوي يو. موږخپل ولس ته بايد د دواړو يادوونه وکړو. که موږولس ته داورښيوچې انګريزته مودرې واره غاښ ماتونکې ځواب ورکړی دی ، نوداهم بايدورته يادکړوچې نن ورځ مو همغه انګريزته دمرستې لاس وراوږدکړيدی. همغه انګريزنن هوساژوندکوي، موږته هم دژوندکولو او نظام جوړولو لار راښايي ، داولي !؟ ورته وښيوچې هغه خو مو مات ضرور کړ، لاکن خپل ځان موابادنکړ.

که موږخپل ولس ته داورياددووچې روس ته موماتې ورکړه ، نړی مودکمونيزم له ګواښه وژغورله ، نو ورسره ترلي داهم بايد يادکړوچې وينې زموږتويې شوې اوګټه ترې بل پورته کړه . ورته څرګندکه کړو چې ،تر برې وروسته مو دا ورتياپه ځان کې پيدانکړای شوه چې هيواد سمسوراوابادکړو، ولس نيکمرغه کړو، بلکې ديوبل وينې موتويې کړې ، هيواد مو وران کړ، ماشومان مو وژړول ... همغه روس نن هوسااوسوله ايزژوندلري ، هيواد يې

وران ویجاړ ندی ، بل ته یي لاس ندی نیولی ، لاکن موږپه څه حال کي یو اوداولي ؟! هغه تیروتني چي رانه شوي دي او دي حال ته يي رسولي یو، باید په ګوته کړو، ترڅو زموږراتلونکی نسل هغه تکرارنکړي.موږله ټولي نړی سره په فکري جګړه کي یواونړیوال دځان دښمن ګڼو : که فرض کړو چي نړی په رشتیاهم زموږسره په جګړه کي وي ، نودغه ستونزه په موږکي ده که په نړی کي ؟ ولي موږدنورې نړی سره په ګډه ، په غبرګون (هماهنګی ) کي ژوند نشوکولی ؟ داخوکیدای نشي چي ټول دي په ناسمه روان وي اویوازي دي موږپه سمه یو. ددي ټولولاملونو او لاملینو یادوونه باید وکړو.
له بي ځایه غرور نه تیرشو. پدي نه کیږي چي (لندنه تاباندي يي نه ورکوم ....) ،بلکي راځئ یوځل دا ومنو چي موږترهرڅاوروسته پاتي یو ،یوازي هغه وخت کولی شو خپل خرپړ هیواد ، خپل ښاراوکلی ښکلي کړو ،بیابه دیته اړتیاهم نه وي چي لندن یادکړو. هیوادوال دسولي ، وطنپالني اوحقیقي میړاني او غیرت لورته راوبولو. بس همدامي هیله ده چي دخپلو لیکوالانو،شاعرانو او له ټولو هیوادوالونه یي کوم.

**پوښتنه:** تاسو دیوشاعراو لیکوال په توګه زموږ دهیواد اوسنی سیاسي، تاریخي اوکړکیچن حالات څنګه څیړي اونوروشاعرانو او لیکوالوته په دي اړه څه وړاندیزونه لرئ؟

**ځواب :**
مادمخکنی پوښتني په ځواب کي هم لړاوزیات پدي اړوند اشاره غوندي وکړه ،خودلته به هم په لنډډول یوڅه ورزیات کړم.
لکه څنګه چي ټولوته جوته ده ، داڅه دپاسه دري لسیزي زموږهیواد او ولس دیوه دردونکي ناورین، کړکیچ او ستونزي سره مخامخ دی. داچي لامل یالاملین یي څوک دي ، پدي هکله نه غواړم دلته بحث وکړم. خودابه ضرور ووایم چي زماپه پکر،دنورولاملونویالاملینوترڅنګه ،تر ټولو لوی او بنسټیزلامل يي موږپخپله یو.زموږ بي اتفاقي ، زموږخودخواهي،دیوبل په وړاندي زموږد ذغم نلرل، دیوبل نظرته درناوی نه کول، بي ځایه غرور،دټوپک اوتورې په وسیله دمسایلو او مرنو حل ته مخه کول، دخپلي بي وسی اوبي حسی پړه پرنورو وراچول اوځان له مسولیته خلاصول، داهغه څه دي چي زماپه پکر، زموږدبدمرغی اصلي لامل ګرځیدلی .
زماپه اند، موږبایدخپل تاریخ اوماضي ته یوځل بیااو په انتقادي نظرهم وګورو ، ترڅووکولی شو خپلو نیمګړتیااواو تیروتنوته (چي زماپکر،ترلاسته راوړنو اوویاړنو یي تله درنه ده )متوجه شواو پندترې واخلو،ترڅو هغه څه چي زموږ د وروسته

پاتې والي سبب ګرځيدلي دي،تکرارنکړو. دخپل پلارواونيکه په وياړنواو کارناموپورې کلک ونه نښلو، بلکې هڅه وکړو،ترڅو دهغوی نه لاډيرې وياړنې او کارنامې ولرو.
بې ځايه غرور ونکړو،له جنګ جګړې، شخوشولنګونه لاس واخلو.
دنورې متدنی نړی دولسو په شان ، ستونزې دخبروله لارې اوارې کړو. دټوپک په ځای دعلم اوقلم نه کټه پورته کړو.

ماپه خپلوشعرونوکې هڅه کړيده چې ولس دسولې او ديوبل په خواکې دګډژوندکولو لورته راوبولم،موږله جګړه نه کرکه وکړو اودپوهې اوعلم لورته مخه کړو. نوديوه شاعراوليکوال په توګه له نوروشاعرانواوليکوالانونه مې هم داهيله ده چې ، دنني عصراوزمان دغوښتنواوامکاناتوپه نظر کې نيولوسره ، ولس ته هغه څه بيان کړي چې پرواقعيتوولاړوي .سره لدې چې کيدای شي ،کله ناکله هغه دچادخوابدی لامل هم وګرځي، هغه به پرې ترخه ولګي ، اما په راتلونکې کې به يې ګټه هرومرو وي.

## په ډير درنښت او ادبي مينه:

## انجنيرعبدالقادرمسعود